# مطبوعاتي اعلاميه




**نیټه:** ۵ سلواغی ۱۳۹۶

**عنوان:** په ۶ سلواغی د ۱۳۹۶ به افغان او روسي لوبغاړي لوبه تر سره کړي

*"په افغانستان کې د لمړي ځل لپاره د شب نبرد"*

په ۶ د سلواغی د ۱۳۹۶ به موبي ګروپ او سنو لیوپرد (SLFC – Snow Leopard Fighting Championship) د کابل پر وخت د ماښام ۹:۰۰ بجې په کابل کې د شب نبرد لوبې ترسره کړی. دغه پیښه به د ورته پیښو لومړنی پیښه وي چې په ژوندۍ بڼه به د طلوع او لمر د تلویزیونونو څخه خپریږي چې د افغان او روسي لوبغاړو تر مینځ به د اصلي او نیمه اصلي کارتونو په دریِ لوبو کې ترسره شي. دغه لوبه به د افغانستان د آزادو لوبو د غوره لوبغاړو د پیژندنې لپاره زمینه برابره کړی. شب نبرد به د میلیونونو افغانانو لپاره د سرګرمی او الهام ورکونې زیرمه وي او همدارنګه به د ټولنیزو بدلونونو لپاره یو غښتلی دلیل وي.

«په قفس کې لوبه» به د شب نبرد لخوا د زورزیاتي سره د مبارزې شعار وي چې په هغه کې به د افغانستان غوره لوبغاړي ځوانان په ژوند کې د ښه نظم درلودلو لپاره وهڅوی تر څو خپل انرژي او احساسات د تاوتریخوالي پرته د آزادو لوبو په قفس کې وکاروي.

شب نبرد د افغانستان د دوه غوره ورزشي شرکتونو یعني موبي ګروپ او سنو لیوپرد د موسسي یوه اوږدمهاله همکاري ده چې په هغه یې هوکړه کړې ده. دغه لوبې به د طلوع او لمر تلویزیونونو تر ټولو د ډیرو لیدونکو وړ ساعتونو کې په ژوندۍ بڼه خپریږی.

په ټولیزه توګه: شپږ لوبغاړی، څلور پیاوړي افغان لوبغاړي هر یو روح الله محمدي، واحد نژند، فیض الله قادري، او حسین بخش صفري – دوه غوره روسي لوبغاړي هر یو کامل مکمدوف او رمضان اسماعیلوف، به په لومړی شپه یو له بل سره ولوبیږي.

په شب نبرد کې به دریِ لوبې ترسره شي چې هره لوبه په دریِ پنځه-دقیقه یی پړاونو کې برابرې شوي دي.

په لومړۍ لوبه کې په ۶۳ کیلو ګرامه وزن یا ډیر وزن کې به حسین بخش صفري د فیض الله قادري پر وړاندې ولوبیږي. په دوهم پړاو په ۷۴ کیلو ګرامه وزن یا نیمه سپک وزن کې به واحد نژند د کامل مکمدوف پر وړاندې ولوبیږي.

په دغه پیښه کې به همدارنګه د نیمه سپک وزن په لوبه کې اسماعیلوف د روح الله محمدي پر وړاندې ولوبیږي. په آخرنۍ لوبه کې چې دغه دوه لوبغاړو څلور میاشتې مخکې ترسره کړې وه، اسماعیلوف ګټونکی پیژندل شوی وو.

د طلوع او لمر د تلویزیونونو سربیره، دغه پیښه به په ژوندۍ بڼه په یوتیوب کې د شب نبرد د کانال څخه هم خپره شي. پلویان او لیدونکي کولای شي چې د دغې پیښې اړوند انځورونه او نور معلومات د شب نبرد او سنو لیوپرد د موسسې SLFC د فیسبوک، اینسټاګرام او ټویټر له پاڼو څخه ترلاسه کړي.

## د موبي‌ګروپ په اړه

موبي‌ګروپ، په مرکزي آسیا، منځني ختیځ او آفریقا کې مخکښ او بشپړ رسنیز او د اړیکو شرکت دی. د ۱۷ سوداګریو څښتنولۍ سره، دا ګروپ د ټلویزون، ډیجیټالي خدمتونو، د محتوا تولید، راډیو، ورزش او ستراتیژیکو اړیکو په برخو کې فعالیت ترسره کوي. موبي‌ګروپ د محتوا تولید په برخې کې یو مخکښ او اعتبار لرونکی شرکت دی. یاد ګروپ د «سن ډانس» فېلم فېستوال ډالۍ، د بې‌پولې رپوټ‌وړاندې کوونکو بنسټ ډالۍ، د «فرانسې بنسټ» ډالۍ، او همدارنګه د «د سیئول نړیواله ډرام» ډالۍ ګټنې ویاړ لري.

### د سنو لیوپرډ یا SLFC په اړه

SLFC یا Snow Leopard Fighting Championship یو نړیواله اداره ده چې مرکز یې په کابل دی. ددې ادارې هڅه داده څو په افغانستان کې ازادو سیالیو یا MMA ته وده او پراختیا ورکړي. دا اداره توانیدلې څو ددا ډول سیالیو پېښه لړۍ د روسې لوبغاړو په شتون کې ترسره کړي.

ددې سیالیو لمړۍ لړۍ د ۲۰۱۶ کال په اپریل کې ترسره شوه چې ډیرو لوبغاړو او مینوالو پکې ګډون وکړ. ددې سیالیو موخه په ۲۰۱۶ کال کې په هیواد کې د جوجیتسو، سوک وهنې او پهلوانې په ګډون په نورو برخو کې د غوره لوبغاړو پیژندل او موندل وو.

هغه مینوال چې نشي کولی دا سیالۍ له نږدې وګوري، د طلوع او لمر له نړیوالو تلویزیوني شبکو څخه یې په ژوندۍ بڼه کتلی شي. د SLFC اداره دا ځل د ټولو لوبغاړو لپاره اړین امکانات په نظر کې نیولي دي چې د بیلګې په ډول کولی شو له نړیوالو روزونکو او د سیالو لپاره د معیاري فضا له برابرولو یادونه وکړو.

د SLFC اداره هڅه کوي په افغانستان کې د MMA ورزش پراختیا ومومي او په افغانستان کې د ازادو سیالیو لوبغاړي نړیوالو ته ورو‌پیژني څو هغوي ته شهرت او سرمایه را جذب کړي.

د لا زیاتو معلوماتو او مرکې لپاره کولی شئ په لاندې ادرس او تیلیفوني شمیرو په اړیکه کې شئ:

**د SLFC اداره**

کاکایل نورستان

عمومي رییس

د اړیکې شمیره: ۰۷۸۶۰۱۱۷۸۶

kakailkhan@gmail.com

**د افغانستان شب نبرد:**

خداداد شعیب

د ټولنیزو رسنیو د څانګې مشر

د اړیکې شمیره: ۰۷۱۱۹۹۵۴۱۵

Khodadad.shoayb@mobygroup.com